# په ننګرهار کښې د باچاخان اتویشتم تلین

حسن بونیرے

په تاریخ کښې ډېر کم خلق په پیړو پیړو داسې پېدا کېږي چې هغه تل تر تله د یو اتل په حیث د تاریخ په پاڼو کښې ژوندي وي. ژوندي قامونه همېشه د هغوي یاد په خپل زړونو کښې ساتي. او د هغوي ژوند،مبارزه د قام دپاره د یو بل مثال په حیث وي. باچاخان هم د دغې کردارونو یو ژوندے مثال دے. باچاخان په قام کښې د قامي مبارزې سیاسي شعور او غلطو رسمونو ختمېدو دپاره کار کړے ؤ. نو بل اړخ ته ئې د پښتون قامي وحدت یو والي دپاره هم خپل د قبر ځائې د ننګرهار سرښار جلال آباد کښې خوښ کړو. چې د پولې دواړو اړخونو ته پښتانهٔ سره یو شي او د دوي تګ راتګ تر آبادۍ دنیا پورې قایم و دایم وي.



له بده مرغه که په پښتونخوا کښې د باچاخان اتویشتم تلین د باچاخان پوهنتون د برید په صورت کښې په وینو سور کړے شو او په سل ګونو ماشومان د ترهګرۍ ښکار شو. قام غمژن ؤ. او پارټۍ فېصله وکړه چې د باچاخان د تلین په مناسبت د صوبې په هره ضلع کښې جوړ کړے شوي پروګرامات وځنډولے شي. خو بل اړخ ته د نیشنل یوتھ آرګنائزیشن ځوانانو د باچاخان په قبر حاضري او هلته د پروګرام تابیا جوړه کړه. هم په دغې غرض د سل کسانو ځوانانو او د پارټۍ د مشرانو یو وفد په اته ویشتم د فرورۍ د باچاخان مزار ته حاضر شول.

کله چې دا وفد خیبرایجنسۍ ته ورسېدل نو د خیبرایجنسۍ د اے این پي صدر شاه حسین شینواري او د هغه ورور شاکر شینواري په لنډي

کوتل کښې تودهرکلے وکړو او وروستو بیا د تورخم په لور روان شو نو په پوله د افغان امنیتي ځواکونو او حکومت د دوي تود هرکلي دپاره د خدائي بخښلي محمد زبیر خاکسار او د نورو همکارانو یو وفد رالېږلے ؤ. یاده دې وي چې خدائے بخښلے خاکسار چې په خوئي یو ریښتونے پښتون ؤ د دې وفد د راتګ په سباله په جلال آباد ښار کښې د نامعلومه کسانو په ډزو کښې شهید کړے شو. دوي مېلمنو ته د ګلونو هارونه په غاړه کړل او د یو لوئې جلوس په شکل کښې مونږ جلال آباد ته روان شو د افغان چارواکو زمونږ سره مینه،مېلمستیا دومره وه لکه چې مونږ د مودو مودو یو بل پېژنو د دوي مېلمستیا نه هېرېدونکې وه خو دا خبره ئې ثابتوله چې د پولې دواړو طرفو ته مېشته پښتانه بحیثیت د قوم د یو وجود دوه اندامونه دي او څوک ئې هم نشي بېلولے.

لاره کښې ډېرو ملګرو دا خبره هم کوله چې د خاورې نه د خپلې مورنۍ خاورې بوئي راځي او نن دا خبره ثابتېږي چې پېښور او جلال آباد کښې هیڅ فرق نشته ما ته هم د ارواښاد اجمل بابا دا شعرونه بار بار یادېدل :

پېښور دے او که کوئټه زما کور دے
که کابل که کندهار دے زما ورور دے

هر خاین چې دې کښې خنډ اچول غواړي
که د لردے که د بر دے مخ ئې تور دے

کله چې وفد د جلال آباد ښار ته ورداخل شو نو د هغې ځائې ځوانانو او د ننګرهار حکومتي ځواکونو تول ښار د باچاخان او غازي امان الله او نورو مشرانو د عکسونو اقوالو نه ښائسته کړے ؤ. او داسې ښکارېده لکه چې دا دستوره په باچاخان مرکز پېښور کښې پېل شوې وي. په دې موقعه د افغان اردو ځوانانو ډېر په ښه طریقه د امنیت ګامونه پورته کړي وو او کله چې مونږ د بابا مزار ته ورداخل شو نو په مېلمنو ګلونه وشیندلے شو. ستېج او تالار د بابا د یو غټ پوټریټ او اقوالو سره جوړ شوے ؤ. د پروګرام په شروع کښې د ننګرهار والي سلیم خان کندوزي صاحب په خپله ټولو مېلمنو ته فرداً په فرداً هرکلے ووئیل.

محترم والي صاحب په خپله وینا کښې د باچاخان په ژوند د هغه په مبارزه ډېرې ګټورې خبرې وکړې او دا ئې ووئیل چې ننګرهار ته دا اعزاز حاصل دے چې دلته د پښتنو دوه اتلان غازي امان الله او باچاخان ښخ دي. مونږ په دې خبره ویاړ کوو او تاسو ته دلته په راتګ مېلمانه نه وایو دا ستاسو خپل کور دے. هر کله راشئ. او پخپل کور کښې چا ته مېلمه وئیل ښه خبره نۀ ده. محترم سلیم خان صاحب په خپله وینا کښې د باچاخان د عدم تشدد او په تعلیم کار کولو ستائینه وکړه او وې وئیل چې اوسني افغانستان ته هم د باچاخان د دغې مبارزې ضرورت دے چې مونږ کلي په کلي، کوڅه په کوڅه د باچاخان او د دې خاورې د نورو مشرانو پېغام خلقو ته ورسوو.

باچاخان د افغانستان په ټولو لارو کوڅو ګرځولے ؤ او بابا به وئیل چې تر څو پورې تاسو ازبک،تاجک،هزاره نۀ بلکې افغانان شوي نه یئ نو تاسو یو قام نه شئ جوړېدے. پکار ده چې نن

مـونږ دلتـــه داسې ځـوانـان او ډلې پیدا کړو چې د باچـاخـان لاره خپله کړي. د باچاخان په نامه جوړ شـوي پـوهـنتـون باندې برید کول د هغه د فکر نه ویـریـدل دي او د باچاخان مزار په جلال آباد کښې پـه افغان قوم یو ننګ دے. یو قرض دے. باید چې مونږ ئې پوره کړو.

مـحتـرم والـي د رئیـس جمهوري اشرف غـني رالیږلے شوے پیغام هم غونډې ته واورولو. پـه دې مـوقـعـه د عـومـي نیشـنل پارټۍ ښاغلي ارباب محمد طاهر چا چې د وفد مشري هم کوله په خپلـه ویـنـا کښې د بـاچاخان د یو والي او اتفاق، اتـحـاد کـوششـونو باندې رڼا واچوله او دا ووئیل یـقیناً د دې خاورې او افغان قوم دښمنان به زمونږ لار نیسي هغوي به زمونږ وینې تویوي. هغوي به زمـونږ نه زمونږ مشران جدا کوي خو د خپل وطن بـه هـغه دښمنانو ته چرې هم نه پرېږدو چې هغوي پـه خپلو ارادو کښې کامیاب شي. نن چې پښتون قـام تـه څـومـره د اتـحاد اتفاق ضرورت دے. زما خیـال دے چې پـه صـدو صدو کښې به نۀ وي. او هم دغـه وجـه ده چې دلتـه پـه افـغـانستان کښې او په کـوزه پښتـونـخـوا کښې چې هـر چـرتـه مري نو پښتون مري. زمونږ د ګوند عوامي نیشنل پارټۍ پـه زرګونو کارکنان او مشران شهیدان کړے شول زۀ د افـغـان حکومت او د محترم سلیم جان صېب شـکـریه ادا کوم چې مونږ ته ئې دومره لوئې عزت راکړو پـه دې موقعه د نیشنل یوتهـ آرګنائزیشن صـوبـائـي صـدر سـنګین ایډوکیټ په خپله وینا کښې د دواړو طـرفـو پـه ځـوانانو غږ وکړو چې نن ورځ د دواړو اړخـونـو ځوانان باید چې مونږ دلتـه دا عهـد وکړو چې مـونږ بـه د بـاچاخان د عدم تشدد د لارې د امـن دپـاره کار کوو. او د افغانستـان اولس دې هـم دا خپـل فـــرض وګڼي چې دوي د دې وران وطـن هره اداره قوي کړي او د امن سره مینه ولري او د تشدد نه کرکه وکړي. په دې موقعه د ننګرهار پـوهـنتـون هـلکانو او جینکو ښلابښل په ډېر زړۀ راښـکـونـکـي غږ کښې د بـاچـاخان ته د عقیدت پیـرزونـي د نظمونو په شکل کښې وړاندې کړې. دې دستـوري تـه د کـابل پوهنتون استاذ لعل باچا ازمـون،بـابـرک میـاخیـل او استـــاد محمد انور سـلـطـانـي هـم ویـنـا وکړه دۀ د باچاخان د افکارو خپـرولـو دپـاره د یـو ګرځنده اکیډمۍ جوړولو هم غـوښتـنـه وکړه. پـه دې مـوقعه د یوتهـ مشرانو ګـلـزارخان او محسن داوړ هم د افغاني اخباراتو او ټیلي ویژن ته د باچاخان په ژوند او جدوجهد خبرې وکړې.

وفد د محترم سلیم جان په مشرۍ کښې د بـاچـاخـــان پـــه مزار د ګلونو ګیډے کېښودو او وروستـو ګـورنـر هـاوس کښې د مېـلـمنو دپاره د ډوډۍ بـنـدوبـسـت هـم شـوے وۀ. په دې موقعه یو شـاعـر د باچاخان په مزار د دعا نه وروستو دا یو څو بېتونه هم ووئیـل :

خړه ډېرۍ د خاورو نه ده ورته فکر وکړئ
دلتـه د لوئې عزم خاوند یو لوئې انسان پروت دے

پـه کـارنامو ئې دي رنګیني د تاریخ پاڼې
یارانو دلته باچا خان فخر افغان پروت دے

لاسونه لپه کړئ چې خدائې ئې مغفرت نصیب کړي
دلته دې خاورو کښې د خلقو لوئې ارمان پروت دے

تـاریـخ ئې نه شي هیرولے حقیقت دا دے
دا پښتنو یو لوئې رهبر عالي نشان پروت دے